# عـرفې دورځـې ځانګړتـیاوې

لیکوال: انــدیال ساپی

Download from:aghalibrary



د عرفې د ورځ ذی الحجې د میاشتې نهمه نېټه ده، دا هغه ستره او مبارکه ورځ ده چې په دین کې ډېر لوړ مقام او منزلت لري، په کال کې تر ټولو غوره ورځ ده، نبی صلی الله علیه وسم ورته خاصه پاملرنه کړی، له دې امله ځینې هغه ځانګړتیاوې لري چې د کال په نورو ورځو کې شتون نه لري، چې ځینې یې په لاندې ډول دی:

(۱) لومړی: ځانــګړنه:

د دین بشپړتیا او د نعمت پوره والی:

الله جل جلاله د عرفی په ورځ د اسلام سپېڅلی دین بشپړ کړ، خپل نعمت یې په انسانانو پوره کړ او اسلام یې زمونږ لپاره ددین په توګه غوره کړ، الله تعالی دد غه ستر نعمت یادونه کوی او فرمایي: ((الْيَوْمَ أَكْمَلْتُ لَكُمْ دِينَكُمْ وَأَتْمَمْتُ عَلَيْكُمْ نِعْمَتِي وَرَضِيتُ لَكُمُ الْإِسْلَامَ دِينًا)).المائدة: ۳.

ژباړه: نن ما ستاسی دین، ستاسی لپاره بشپړ کړ او خپل نعمت می پرتاسو پوره کړ، او ستاسې لپاره می اسلام ددین په توګه غوره کړ.



ابن کثیر – رحمه الله- د دې ایت په تفسیر کې لیکی:"
دا د الله تعالی پدې امت ډېر ستر نعمت دی، چې دین
یې ورته بشپړ کړ، دوی بل دین ته اړتیا نه لري، او له
خپل نبی -صلی الله علیه وسلم - پرته بل نبی ته هم اړتیا
نه لري، له دې امله الله جل جلاله نبی -صلی الله علیه
وسلم د خپل وروستی استازې په توګه پیریانو او انسانانو
ته راواستوو، حلال هغه دی چې هغه بیان کړی او حرام
هغه دی چې هغه تر منعه کړی او دین هغه دی چې
هغه راوړی، د څه په اړه چې یې خبر ورکړي حق او ثابت
دي، دورغ او شک په کې هیڅ ځای نلري الله تعالی
فرمايي: :(( وَتَمَّتْ كَلِمَتُ رَبِّكَ صِدْقًا
وَعَدْلًا )).الأنعام:۱۱۵.

ژباړه: ستا د رب وینا په رښتني او انصاف سره پوره شوه.
یعنی په وینا او خبر ورکولو کې رښتنی دی، په غوښتنو
او نواهیو کې منصف دی"(۱).

د ایت په حجة الوداع کې د عرفی په ورځ په نبی -صلی
الله علیه وسلم - نازل شو، په صحیحینو کې د عمر بن
الخطاب رضی الله عنه روایت دی، یو یهودی راغلی او
ورته یې وویل: ای أمیر المؤمنینه: ستاسې په کتاب کې
یو ایت دی که چېرته په مونږ یهودو نازل شوی وی نو
دغه ورځ به مو اختر ټاکلی وی، هغه ورته وویل: کوم یو
ایت دی؟ یهودي وویل: (( الْيَوْمَ أَكْمَلْتُ لَكُمْ دِينَكُمْ



وَأَتْمَمْتُ عَلَيْكُمْ نِعْمَتِي وَرَضِيتُ لَكُمُ الْإِسْلَامَ دِينًا)). المائدة: ۳.

عمر رضی الله عنه ورته په وویل: زه هغه وخت او ځای پیژنم چې دغه ایت په کې په نبی -صلی الله علیه وسلم- نازل شو د جمعی په ورځ په عرفات کې ولاړ وو(۲).

(۲) دویمه: ځانګړنه:

د جهنم د اور څخه د زیاتو مسلمانانو خلاصی:

پدغه ورځ تر ټولو زیات انسانان له اور څخه نجات مومي ، په صحیح مسلم کې له أم المؤمنين عائشی رضی الله عنها نه روایت دی، یقینا رسول صلی الله علیه وسلم وفرمایل:« مَا مِنْ يَوْمٍ أَكْثَرَ مِنْ، أَنْ يُعْتِقَ اللَّهُ عَزَّ وَجَلَّ فِيهِ، عَبْدًا مِنَ النَّارِ، مِنْ يَوْمِ عَرَفَةَ، وَإِنَّهُ لَيَدْنُو عَزَّ وَجَلَّ، ثُمَّ يُبَاهِي بِهِمُ الْمَلَائِكَةَ، فَيَقُولُ: مَا أَرَادَ هَؤُلَاءِ ».

ژباړه: د عرفی له ورځی څخه پرته بله داسی یوه ورځ نشته چې الله رب العزت په کې خپل زیات بندګان له اور څخه خلاصوی ، یقینا الله تعالی رانږدی شی، له ملایکو سره مباهله کوي او وایې : زما بندګان څه غواړی؟.

دا هغه ورځ ده چې الله جل جلاله د ځمکې اسمان ته راکوزیږي او د خپلو بندګانو په سر له ملایکو سره مباهله کوي، فرمایي:« انْظُرُوا إِلَى عِبَادِي أَتَوْنِي شُعْثًا غُبْرًا،



ضَاحِينَ مِنْ كُلِّ فَجٍّ عَمِيقٍ، أُشْهِدُكُمْ أَنِّي قَدْ غَفَرْتُ لَهُمْ »(٣).

ژباړه: زما بندګانو ته وګورئ چې خړ پړ له هر لېري مزل څخه پلی او پر اوښانو سپاره راغلی ،زه تاسی ګواه کوم چې ما دوی ته ښښنه وکړه.

له أنس رضی الله عنه روايت دی فرمايي: نبی صلی الله عليه وسلم په عرفات کې ولاړ و، نږدی وه چې لمر پريوځي، رسول صلی الله عليه وسلم بلال – رضی الله عنه- ته وفرمايل:«يَا بِلاَلُ، أَنْصِتْ لِيَ النَّاسَ »، فَقَامَ بِلاَلٌ فَقَالَ: أَنْصِتُوا لِرَسُولِ اللهِ صَلّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَأَنْصَتَ النَّاسُ، فَقَالَ:« مَعَاشِرَ النَّاسِ، أَتَانِي جِبْرَائِيلُ عليه السّلام آنِفًا فَأَقْرَأَنِي مِنْ رَبِّي السَّلاَمَ، وَقَالَ: إِنَّ اللهَ عزّ وجلّ غَفَرَ لِأَهْلِ عَرَفَاتٍ وَأَهْلِ المَشْعَرِ، وَضَمِنَ عَنْهُمُ التَّبِعَاتِ»، فَقَامَ عُمَرُ بْنُ الخَطَّابِ رضي الله عنه فَقَالَ: يَا رَسُولَ اللهِ ! هَذَا لَنَا خَاصَّةً ؟ قَالَ:« هَذَا لَكُمْ، وَلِمَنْ أَتَى مِنْ بَعْدِكُمْ إِلَى يَوْمِ القِيَامَةِ »،فَقَالَ عُمَرُ بْنُ الخَطَّابِ رضي الله عنه: كَثُرَ خَيْرُ اللهِ وَطَابَ(۴).

ژباړه:ای بلاله: ماته خلک چوپ کړه، بلال -رضی الله عنه- پاڅيد او ويې ويل: رسول صلی الله عليه وسلم ته غوږ شئ، خلک رسول صلی الله عليه وسلم ته غوږ شول، هغه وفرمايل: اوس ماته جبريل عليه السلام راغلی د



رب له لوري يې  سلام راورسولو او ويې ويل: يقينا الله تعالى د عرفات او مشعر الحرام(مزدلفه کې ځانګړی ځای دی)خلکو ته ښښنه وکړه، او هغوی نه يې خلکو حقوقو د ادا کولو ضمانت وکړ، عمر – رضی الله عنه- ودريده او ويې ويل: ای د الله رسوله: ايا دا حکم زمونږ لپاره خاص دی؟ نبی صلی الله عليه وسلم ورته په ځواب کې وويل: دا ستاسې او تاسې څخه وروسته تر قيامت ورځې پورې د ټولو راتلونکو خلکو لپاره دی، عمر – رضی الله عنه- وويل: د الله تعالی خير زيات او پراخه شو.

(۳) درېيمه: ځانـګړنه:

د عرفی ورځی روژه نيول د دوکالو ګناهونه ښښی:

د عرفی ورځی روژه نيول سنت عمل دی، علماوو اجماع کړي چې د رمضان له مياشت څخه وروسته عرفی د ورځی روژه  له ټولو ورځو څخه غوره ده ، ځکه  نبی - صلی الله عليه وسلم-فرمايلي دی:« صيامُ يومِ عرفةَ، أَحتسبُ على اللهِ أن يُكفِّرَ السنةَ التي قبلَه والسنةَ التي بعده ...»(۵).

ژباړه: زه اميد لرم چې عرفی د ورځی په روژه نيولو الله جل جلاله د تير او راتلونکی کال ګناهونه ښښی.

دعرفی ورځی روژه نيول د الله تعالی په وړاندې د بندګانو مرتبې لوړوی، نيکۍ يې زياتوی او واړه (صغيره) ګناهونه يې رژوی، امام نووی – رحمه الله – وايي: دلته



مراد واړه ګناهونه دی کچیرته واړه ګناهونه نه لري نو
کبیره ګناهونه به یې سپک شي او که صغیره او کبیره
دواړه نوی نو مرتبې به یې لوړی شي، قاضي عیاض –
رحمه الله- وايي: د د أهل سنت والجماعت مذهب
دی. ځکه د کبیره ګناهونو د ښښنی لپاره د ګناه
پریخودل او له هغی څخه توبه ویستل شرط دی(۶).

الله تعالی فرمايي: ((إِن تَجْتَنِبُوا كَبَائِرَ مَا تُنْهَوْنَ عَنْهُ نُكَفِّرْ عَنكُمْ سَيِّئَاتِكُمْ وَنُدْخِلْكُم مُّدْخَلًا كَرِيمًا)) د النساء سورت: ۳۱ ایت.

ژباړه: که تاسي له هغو سترو ګناهونو څخه ډډه وکړئ
چي تاسي ورڅخه منع کیږي؛ نو وړې وړې ګناوي به مو
له حسابه وغورځوو او تاسي به د عزت ځای ته ننباسو.

همدا شان رسول صلی الله علیه وسلم څخه عرفی ورځی
د روژی نیولو د ثواب په اړه پوښتنه وشوه، هغه
وفرمایل:«يُكَفِّرُ السَّنَةَ الْمَاضِيَةَ وَالْبَاقِيَةَ»(۷).
ژباړه:د تیر شوی او راتلونکی کال ګناهونه رژوی.

(۴) څلورمه: ځانــګړنه:
د عرفی ورځی دعا تر ټولو غوره ده:
دغی ورځی د دعا په اړه رسول صلی الله علیه وسلم
فرمايي:« خَيْرُ الدُّعَاءِ دُعَاءُ يَوْمِ عَرَفَةَ، وَخَيْرُ مَا قُلْتُ أَنَا
وَالنَّبِيُّونَ مِنْ قَبْلِي: لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ وَحْدَهُ لَا شَرِيكَ لَهُ، لَهُ



الْمُلْكُ وَلَهُ الحَمْدُ وَهُوَ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ »(٨).

ژباړه: غوره دعا عرفه د ورځ ده، او غوره وينا هغه ده چې ما او له ما څخه مخکې پيغمبرانو ويلې ده، هغه داده: نشته دی مستحق د بندګۍ مګر يواځې يو الله جل جلاله دی چې هيڅ شريک نه لري، ده لره پاچاهي ده او ده لره حمد او ثنا ده، او يقيني توګه الله جل جلاله په هر څه برلاسی دي.

(۵) پنځمه ځانګړنه:

دا په شيطان تر ټولو سخته ورځ ده:

دا هغه ورځ ده چې شيطان په کې زيات ذليله، ټيټ او سپک وی:

رسول صلی الله عليه وسلم پدې هکله فرمايي:« مَا رُئِيَ الشَّيْطَانُ يَوْمًا هُوَ فِيهِ أَصْغَرُ وَلَا أَدْحَرُ وَلَا أَحْقَرُ وَلَا أَغْيَظُ مِنْهُ فِي يَوْمِ عَرَفَةَ»(٩).

ژباړه: هيڅ يوه ورځ شيطان نه دی ليدل شوی چې هغه دی په کې ډير ټيټ، سپک، ذليله او غوسه وي، د عرفې د ورځې په څير .

محترمو وروڼو/خويندو

دا مبارکه ورځ غنيمت وګڼئ، دخپل رب مهرباني ته وړاندې شئ، عملونه مو د الله لپاره خالص کړئ، هغه ته عاجزي وکړئ، د تير شوی ګناهونو او کمی بښنه او عفوه ترې وغواړئ، د رحمت اميد يې وساتئ، له عذابه يې



ترې وغواړئ، د رحمت امید یې وساتئ، له عذابه یې
ووریږئ، الله جل جلاله ته په ذکر، دعا، او عاجزی کولو
ورنږدی شئ، یقینا الله جل جلاله سخی، عزتمند،
ښښونکی، مهربانه ، نږدی او قبلونکی ذات دی.

*****

مأخـــــذونه:

(۱) تفسیر القران العظیم (۳/۲۶).

(۲) بخاری پدې الفاظو روایت کړی (۴۵)، مسلم هم
روایت کړی(۳۰۱۷).

(۳) امام ابن خزیمه روایت کړي (۴/۲۶۳)، ح(۲۸۴۰).

(۴) امام منذري په ترغیب و ترهیب کې روایت کړی،
امام البانی – رحمه الله – په صحیح الترغیب
والترهیب(۲/۱۶) کې وایې صحیح لغیره دی، د حدیث
شمیره(۱۱۵۱).

(۵) امام مسلم له أبي قتادة الأنصاري څخه روایت کړی،
د حدیث شمیره ده(۱۱۶۲).

(۶) تحفة الأحوذي، عرفی ورځی روژی نیول د فضیلت
باب.

(۷) امام ترمذي په کتاب الصوم کې روایت کړی،
دحدیث شمیره ده (۶۸۰)،ابن ماجه هم په کتاب الصوم
کې روایت کړی، دحدیث شمیره ده (۱۷۲۰).



Greater Afghan
Library
@Greater_Afghan_Library93
@Greater_Afghan_Library_Group